## الدرس الأول

## اولنۍ درس

### حالة العرب قبل البعثة

### د عربو حالت نبوت نه مخکښې

پدي دور کښې د عربو مشهور دين بت پرستي وه ځکه چي عربو ديني ابراهيمی پريښودلی وو او بت پرستۍ کښې أخته شوی وو، دی دور ته د جاهليت دور وئيلۍ شی ، د الله تعالی نه علاوه چی د کومو بتانو عبادت کيدو د هغې نومونه دادی: لات، عزی ، مناة ، او هُبل ، د بعضو عربو دين يهوديت ، عيسائيت او مجوسيت هم وو، ډير لږ خلق په ملت ابراهيمی باندی قائم وو .**د ژوند د تيرولو اسباب**:اکثر به خانه بدوش وو صحراؤنو کښې اوسيدل او عام ځاروی ساتل او د هغوی ځرول ئے کسب وو او کلو ښارونو کښې اوسيدونکی خلق زميدارۍ او تجارت کښې مشغوله وو، د اسلام د راتللو نه مخکښې مکه مکرمه د جزيره عرب دپاره دتجارت لوي مرکز وو، طائف او مدينه مشهور ښارونه وو، پدی معاشره کښې ظلم او زياتی ډير وو، د کمزورو حق چا نه منلو، ژوندی ماشومی جينکۍ به ئے په زمکه کښې خاښولی ، عزتونه به لوټ کيدل ، زورور به د کمزورو حق په زبردستۍ سره خوړلو، بے شماره ښځو سره به نکاح کيدله، زنا عام رواج وو، په وړه وړه خبره به د قبيلو ترمينځ جنګونه کيدل، کله به يو قبيلۍ خپل مينځ کښې جنګ کولو، دا د اسلام د راتللونه مخکښې د جزيره عربې مختصر غوندي تصوير دي .**د ذبيحينو (دوه حلال شوی) کسانو ځوي**:تولو قريشو به د عبد المطلب په مقابله کې په خپلو اولادو او مالدارۍ سره فخر کولو نو ددی وجی نه عبد المطلب يوه ورځ نذر منلۍ وو چی که چرته الله تعالی ماله لس (۱۰) نارينه بچی راکړل، نو زه به پکښې يو د خپلو معبودانو د رضا کولو دپاره ذبح کوم ، د عبد المطلب دا آرمان پوره شو، الله تعالی ورله لس (۱۰) نارينه اولاد ورکړل چی يو پکښې د نبی کريم ﷺ پلار عبد الله هم وو، کله چی عبد المطلب خپل نذر پوره کول وغوښتل ، نو دځامنو ترمينځ ئی قرعه اندازی (خسنړی) وکړه ، نو د عبد الله نوم راووتلو ، عبدالمطلب چی کله د عبد الله د ذبح کولو اراده وکړه ، نو خلق راجمع شول چی عبد المطلب ددی کار نه منع کړی ، هسی نه چی دا کار په خلقو کښې رواج جوړ نه شی ، بالآخر پدی فيصله وشوه چی د عبد الله او د لسو (۱۰) اوښانو ترمينځ به قرعه واچوی ، پدی طريقه به دا د عبد الله فديه جوړه شی ، قرعه ئے چی واچوله نو د عبدالله نوم راواخلو ، نو هغوی د اوښانو عدد دوچنده کړلو ، بيا هم د عبد الله نوم راوختلو ، پدی طريقه ئے اوښان ډيرول ډيرول او قرعه کښې به د عبدالله نوم راوختلو تر دی چی د اوښانو تعداد سل (۱۰۰) ش و، نو بيا د اوښانو نوم راوختلو ، عبد المطلب سل اوښان ذبح کړل د عبدالله په فديه کښې ، د نورو ځامنو په نسبت عبد الله پلار ته ډير ګران وو، او خاصکر د سلو اوښانو د فدئی نه پس ئے ورسره ډيره مينه کوله ، عبدالمطلب د خپل ځوی عبد الله دپاره د بنی زهره قبيلۍ د يوه جينۍ آمنه بنت وهيب انتخاب وکړو ، او د هغی سره ئے ورله نکاح وکړه ، آمنه بی بی حامله شوله ، ددی د حمل نه دری مياشتی پس عبد الله د تجارتی قافلۍ سره د شام په طرف روان شو ، واپسۍ کښې بيمار شو، چونکی بنی نجار دده ماماګان وو مدينه کښې نو هلته ايسار شو تردی چی وفات شو او هلته دفن شو . دحمل ورځی پوره شوی او نبی کريم ﷺ دګل په ورځ (يوم الاثنين) باندی و زيږی دو ، البته د تاريخی اختلاف د وجی نه د نبی کريم ﷺ د پيدائش صحيح مياشت او ورځ معلومه نده ، د يو روايت مطابق د نبی کريم ﷺ پيدائش په(۹) نهم ربيع الاول باندی شوی دی ، د دوهم روايت مطابق(۱۲) دولسم ربيع الاول دی ، د دريم روايت مطابق رمضان کښې پيدا شويدی ، ددی نه علاوه هم نور روايتونه موجود دی ، دا واقعه ۵۷۱ء کښې راغلی وه ، دغه کال ته (عام الفيل) هم وائی، پدی کال باندی أبرهه د هاتيانو سره په مکه حمله کړی وه چی الله ذليله کړی وو .